NHS

Public Health England

## په لندن کې د مور اور پلار لپاره معلومات

# ټي بي، بي سي جي واکسین او ستاسو ماشوم



لکه د نورو هیوادونو په شان، په برتانیې کښې هم بي سي جي (بیسلیسس کالمیټ—ګویرن) واکسین هغو ماشومانو ته ورکول کېږي چې له یو داسي کس سره یې کېدلای شي تماس راشي چې ټي بي لري.

په دغو کښې هغه ماشومان شامل دي چې لوړې کچې د ټي بي په سیمو کښې اوسېږي یا هغه ماشومان چې مور او پلار یا نیکه او نیا یې د لوړې کچې د ټي بي له سیمو څخه وي.

immunisation
the safest way to protect your child

له 2016 راهیسې، په لندن کې ډیرو میټرنیټي وارډونو ټولو ماشومانو ته د بي سي جي واکسین ورکړی دی ولې چې دغلته د هیواد د نورو برخو په پرتله د ټي بي کچه لوړه وه. ولې، له تېرو اتو کالو راهیسې په لندن کې په ټي بي اخته خلکو شمېر کال په کال راټولېدلی دی.

نو د همدې کبله، له سپټامبر 2020 څخه به، په لندن کې زېږېدونکي ټول ماشومان بي سي جي ته نور لاسرسی نه لري. هغه ماشومان چې د لوړې کچې د ټي بي په سیمو کښې اوسېږي یا هغه ماشومان چې مور او پلار یا نیکه او نیا یې د لوړې کچې د ټي بي له هیوادونو څخه وي، به بي سي جي ته لاسرسی جاري ساتي. بي سي جي واکسین به په ټولنیزو کلینکونو کې ورکړل کېږي.

## که له سپټامبر 2020 وروسته په لاندینیو پوښتنو کې کوم یو ته مو ځواب هم 'هو' وي، نو ستاسو مډوائف، هیلت وزیټر یا جي پي به ستاسو ماشوم د کمیونټي بي سي جي واکسنونو کلینک ته لېږي:



- ایا ستاسو ماشوم، د ماشوم مور، پلار، یا نیکه، یا کوم بل کس چې له تاسي سره اوسېږي، له یوه داسې هیواد څخه دی چېرته چې د ټي بي کچه لوړه ده*؟
- آیا تاسو یا ستاسو ماشوم به دغو هیوادونو کښې په کوم یو کښې به اوسي او یا به له دوستانو او خپلوانو سره پاتې کېږي؟
- آیا داسې کوم څوک شته چې له تاسو سره اوسېږي، یا ستاسو له ماشوم سره زیات وخت تېروي، چې اوس ټي بي لري یا یې پخوا لرلو؟
- آیا تاسو د لندن په نیوهم برو کې اوسېږئ؟

* www.gov.uk/government/publications/
tuberculosis-tb-by-country-rates-per-100000-people

© Crown copyright 2020. پروډکټ کوډ: 2020103B. پبلک هیلت اینګلینډ ګیټوی نمبر: 2020103. 27-07-2020 .Version 1. د دې پوسټر نقلونو له HealthPublications.gov.uk نه په پاسني پروډکټ کوډ استعمالولو راغوښتلای شئ.